# د فضل احمد غر ژوند يوٰ تحقيقي جاج

# A Critical Overview of the Life of Fazal Ahmad Ghar

Usama Khan *
Dr Amirzada **

**Abstract:**

There are many poets in the world literature who did not get the fame they deserved. Similarly, in Pashto literature, Fazal Ahmed Ghar is a poet who has not found fame in the literary world. Fazal Ahmad Ghar is a modern poet of the twentieth century in Pashto literature. As a poet, he has written several Pashto poetry genres. His poetry is a complete reflection of contemporary times. Every writer and poet has his own ideas and thoughts. We know that poets of early ages were so closed and had some thoughts providing the poetry of diverse ideologies many ideas are included in his poetry, for example, patriotism, resistance, progressivism, political ideas, etc. The life of Fazal Ahmed Ghar was fully frameless in Pashto Literature. This research paper attempts to analyze his personal life, family, tribe, education, and business; it also elaborates on the views of contemporary scholars.

**Keywords** : Fazal Ahmad Ghar, deserved, progressivism, contemporary

پۀ مخ د زمکه بلها قامونه ژوند کوي چې پۀ دغه قامونو کښې يو پښتون قام هم دے چې د دې خاورې د لرغوني قام شهره ئې پۀ سر ده د پښتنو دا خاوره پۀ هر وخت کښې پۀ يو نه يو شکل ډېره غني پاتې شوې ده ۔ د دې دا غني توب د فطرتي ښکلا سره سره چرته د سياست، چرته د مذهب، او چرته د ادب پۀ شکل کښې پاتې شوے دے ۔ دغه رنګ دې خاورې او قوم وخت پۀ وخت داسې اتلان ، شاعران، ليکوالان او اديبان پېدا کړي دي چې د دې خاورې ادب او سياست ئې غني کړے دے ۔ دغه رنګ بلها داسې خلق داسې دي چې د پښتو ادب پۀ مېدان کښې د ميل د کاڼي حېثيت لري ۔ خپل قام به ئې تل د ژوندي انسانانو پۀ څېر پۀ

* Usama Khan, Graduate, Department of Pashto, Islamia College Peshawar
** Dr Amirzada, Assistant professor, Government Post Graduate College Mardan

خپلو سینو کښې ژوندي ساتي ـ دې خلقو وخت په وخت یا خو په خپله د یو تحریک حېثیت اختیار کړے دے او یا ئې بالواسطه یا بلاواسطه د یو تحریک نه اثر اخستے او دا تحریک ئې د خپل قلم د لارې داسې ګرندے کړے دے چې په خپله ئې د یو تحریک شکل خپل کړے دے ـ خو د وخت څپو او ګردونو بعضې خلق داسې پټ کړي دي چې د خپل اولس نه ئې بیخي پټ ساتلي دي چې په دغه نومونو کښې یوه نامه د فضل احمد غر هم ده فضل احمد غر د شلمې صدۍ یو داسې شاعر دے چې شاعري ئې د قام د پاره د څراغ حېثیت لري ـ خو له بده مرغه د دهٔ ډېره شاعري د وخت ناکړدو د ځان سره لاهو کړې ده خو کومه شاعري چې ئې په کتابي بڼه مخې ته راغلې هغه هم د اولس سره هغه شان نهٔده متعارف شوې لکه څنګه چې په دغه وخت کښې د نورو شاعرانو شاعرۍ په پښتو ادب او ټولنه کښې ځان له ځائے پېدا کړے دے ـ

"د مردان ضلعې په " سره ډهېرۍ نومې کلي کښې د حضرت عبدالله مسافر صحرائي کره په کال ۱۸۹۹ء کښې پېدا شو" [1]

د دهٔ پوره نوم ابو سعید فضل احمد غر دے په مردان کښې زېږېدلے دے خو بیا د خپل پلار سره لاهور تللے ؤ او ډېر ژوند ئې د خپل پښتون وطننهبهر تېر کړے دے تر ازادۍ پورې ئې د خپلې خاورې نه ځائے په ځائے په مختلفو علاقو کښې خپلې شپې ورځې سبا کړې دي ـفضل احمد غر د ازادۍ نه پس بیا خپل وطن ته راغلے دے دلته کښې په کال ۱۹۴۹ء کښې واپس استوګن شو چې څهٔ کم پنځوس کاله ئې د وطن نه بهر تېر کړل په دې وجه د دهٔ دژوند په حقله ډېر بشپړ معلومات په لاس نهٔ راځي غر د پښتو ادب یو ښهٔ او منفرد شاعر دے دهٔ په خپله شاعرۍ کښې دوه تخلصونه کارولي دي چې یو " غر" او بل " افغان" دے ـ

"هو بهو د اردو مشهور شاعر غالب، هم هغه شان ږیره، هم هغه شان ټوپۍ، چې اکثر د غالب بابا فوټوګانو کښې وي ـ مونږ په حېرت کتل چې دا غالب د کومې رازوندې شو ------- خلیق صیب غالب بابا ته اشاره وکړه او وې وئېل دا فضل احمد خان غر دے ما چې دا وکتل یکدم د دکن، فضل احمد ، او کوهي ته ورسېدم" [2]

فضل احمد غر د رنګ او جوسې نه ښۀ ښکلے او برابر ؤ اجمل خټک چې د هغۀ د شکل پۀ حقله کومه خاکه راښکلې ده نو هغه ډېره پۀ زړۀ پورې ده د غالب پۀ شان ږیره نري بریت او د کراکول ټوپۍ د لوستلو سره ئې بیخي د غالب شکل مخې ته راځي ۔ د دې نه دا خبره پۀ ډاګه کېږي چې دے لکه د غر مضبوط هم وۀ او ښۀ کلک پښتون هم ؤ ۔ د دۀ شاعري د قام د سیاسي او ټولنیز ژوند ترجماني کوي ۔ شاعري ئې پۀ روانه او اسانه ژبه کښې کړې ده هر سړے پرې پۀ اسانه خپل ځان پوهه کولے شي ۔ د شاعرۍ د لارې ئې دا کوشش کړے دے چې خپل قام کښې بېداري راپېدا کړي او وخت سره د سم تګ کولو جوګه ئې کړي ۔ دے چې کله د ازادۍ نه پس خپل پښتون وطن ته واپس شو نو هم دلته ئې بیا ټول ژوند تېر کړے دے او هم دلته کښې مړ شوے دے ۔

"فضل احمد افغان خپل اخري ژوند پۀ خپل وطن پېښور کښې تېر کړ دلته ئې چا قدر ونۀ پېژندۀ پۀ ډېر درد مند حالت کښې له دنیا لاړو او د خپل قوم بې قدرۍ داغ ئې له ځان سره ګور ته یوړو د دۀ زیات قلمي اشعار د بې قدرۍ د لاسه د دۀ د ژوند پۀ اخري وخت د اور پۀ لمبو کښې وسوزېدل ۔" [3]

د دۀ ژوند پۀ ډېر بې سرو سامانۍ کښې تېر شوے دے د ژوند پۀ دې سفر کښې ئې ډېرې سختۍ تېرې کړې دي ۔ مالي حالت ئې ډېر ښۀ نۀ ؤ او هم دغه وجه وه ډېر وخت ئې د خپل وطن نه بهر پۀ خوارو مزدورو کښې تېر کړے دے ۔ د ژوند ډېرې سختۍ او نرمۍ ئې لیدلې دي ۔ د دغې هر څۀ باوجود هم خپل ځان ئې د حالاتو مقابلې ته او د پښتون قام وکالت او لارښودنې ته لکه د غر ودرولے دے کۀ هر څو کمزورے ؤ او دژوند د کړکېچنو حالاتو سره مخ ؤ خو ولې حوصله ئې نۀ ده بائللې او خپل ژوند ئې مخ پۀ وړاندې بوتللے دے هم دغه وجه ده چې پۀ شاعرۍ کښې ئې د ژوند هر اړخ پۀ نظر راځي او داسې ښکاري چې ژوند ئې ډېر د نزدې نه لیدلے دے ۔ د ټولنې خامۍ او خوبۍ ئې پۀ ګوته کړې دي او پۀ یو داسې طریقه ئې د قوم لارښودنه کړې ده چې د لوستلو پۀ وخت لوستونکے داسې محسوسوي چې ګنې دا خبره ئې ما د پاره کړې ده ۔ کومې کمۍ چې ئې بیان کړې دي نۀ صرف بیان کړې ئې دي بلکښې د هغې حل ئې پۀ څۀ نا څۀ شکل کښې وړاندې کړے دے او دا هر څۀ دۀ د خپل ژوند نه زده کړي دي۔ د دۀ ټول ژوند د دۀ پۀ شاعرۍ کښې لکه د نمر بریخي پۀ پښتو او اردو دواړو ژبو

کښې ئې شاعري کړې ده او سبب ئې دا دے چې ډېر ژوند ئې د هغه خلقو سره تېر کړے دے ۔ په دې وجه اردو کښې ئې هم شاعري کړې ده خو د دومره وخت او ماحول باوجود ئې هم خپله مورنۍ ژبه پښتو نۀ ده هېره کړې او ښۀ د زړۀ د کومې نه ئې د خپلې ژبې او ادب خدمت ته ملا تړلې وه ۔ خو ولې ډېره هغه شاعري چې دۀ ليکلې خو وه خو پۀ مجلو يا اخبار کښې چاپ نۀ وه هغه ئې سوزولې ده او ضائع کړې ئې ده چې د پښتو ژبې او ادب د پاره يو ډېر لوے تاوان دے ۔

"غر صاحب پۀ خپل اخري عمر خپل اشعار وسوزول او چې ايره شول نو وې وئېل ۔"دغو زۀ ډېر بې ارامه کړے وم اوس زۀ پۀ ارام شوم" او بيا د دغه وېنا نه يوه لحظه پس ئې ساه ورکړه دا کال ۱۹۶۵ء ؤ ۔" [4]

فضل احمد غر د خپلې شاعرۍ د سوزولو سره سم د دې دنيا نه تللے دے ۔ د مرګ نه پس پۀ خپل وطن کښې خاورو ته سپارلے شوے دے ۔ کله چې د دنيا لاړو نو دغه وخت ئې عمر اووۀ شپېتۀ (۶۷) کاله ؤ ۔

د غرۀ ګلونه پېژندګلو

د " غرۀ ګلونه " د فضل احمد غر شعري مجموعه ده ۔ دا کتاب دوه ځله د چاپ د مرحلې نه تېر شوے دے پۀ وړومبي ځل داکتاب د " ګل کوهي" پۀ نوم د افغانستان د قونصل لۀ خوا چاپ شوے ؤ ۔ دا کتاب هغه وخت چاپ شو کله چې غر پۀ بمبۍ کښې ژوند کولو نو خپل دغه کتاب ئې د هغه وخت افغانستان قونصل مشر غلام احمد خان ته وړاندې کړو چې د هغۀ د سريزې سره بيا چاپ شو خو ولې پۀ دغه کتاب کښې د دۀ پوره شاعري چاپ نۀ وه او وجې ئې دا وه چې دے د دغې نه پس ژوندے ؤ او شاعري ئې کوله خو ولې بيا وروستو کله چې دے خپل وطن ته راغلو پۀ دغه وخت کښې دلته پۀ پښتونخوا کښې د دۀ شعري مجموعه د ښاغلي همېش خليل د مقدمې سره پۀ وړومبي ځل چاپ شوه چې پۀ دې کتاب کښې د پښتو شاعرۍ سره سره د دۀ د اردو شاعري هم شامله کړې

"د فضل احمد غر پۀ پښتو او اردو کلام مشتمله مجموعه "د غرۀ ګلونه" ښاغلي همېش خليل پۀ وړومبي ځل پۀ کال ۱۹۵۷ء کښې چې په دوېم ځل پۀ کال ۱۹۹۱ء کښې د پښتو ادبي مرکز سرائے نورنګ بنو نه د همېش خليل د مقدمې سره چاپ شوه" [5]

دا کتاب پهٔ دوېم ځل هم همېش خلیل چاپ کړے دے چې پکښې ئې نوره اضافي شاعري هم شامله کړې ده ـ پهٔ دغې کښې د اردو برخه، څهٔ قطعې او څو نظمونه شامل دي ـ دا کتاب ټول پوره سل مخونه لري چې پهٔ شعري اصنافو کښې پهٔ کښې غزلې، نظمونه، قصیدې او قطعې شاملې دي ـ سریزه پرې قاسم بنوي او مقدمه پرې همېش خلیل لیکلې ده ـ پهٔ دې کتاب کښې عشقیه،مذهبي، سیاسي، ترقي پسند او اخلاقي مضمونونه وغېره ذکر شوي دي ـ پهٔ دې کتاب کښې دهٔ " غر" او " افغان" دوه قسمه تخلص کارولے دے ـ او یو ځائے ئې د اردو پهٔ یو شعر کښې فضل احمد هم استعمال کړے دے ـ

"فضل احمد کی اقتدا نہ کرو

اس کے کعبے کا اعتبار نہیں"[6]

صرف پهٔ دې یو شعر کښې ئې فضل احمد او باقي شاعرۍ کښې ئې چرته " غر" او چرته " افغان" تخلص کارولے دے د دې نه علاوه پهٔ ټول کتاب کښې صرف اووهٔ (۷) ځله "غر" او څلور څلوېښت (۴۴) ځله ئې "افغان" تخلص کارولے دے ـ

غزلونه، نظمونه او قطعات

پهٔ دې کتاب کښې غزلې نظمونه او قطعات پهٔ مخلتف تعداد کښې شامل دي چې شمار ئې څهٔ پهٔ دا ډؤل دے ـ

په دې کتاب کښې د پښتو ټولې څوارلس غزلې دي او د اردو درې غزلې شاملې دي، لس نظمونه یو حمد او دوه نعتونه شامل دي ـ د دې سره پهٔ پښتو برخه کښې یو سل درې شپېتهٔ (۱۶۳) قطعې شاملې دي او پهٔ اردو برخه کښې اتهٔ قطعې شاملې دي ـ د شاعرۍ نمونې یې دلته وړاندې کولے شي ـ

"نور قومونه چې څنګ دي پهٔ ترقۍ کښې
علم و فن زده کړه کهٔ داسې کېدل غواړې
تهٔ پهٔ خپله د ځان قدر وکړه پاخه
کهٔ دُنیا کښې پهٔ عزت اوسېدهٔ غواړې
وار خطا دې خطرې د لارې نهٔ کړي

کــۀ منــزل تــه د مقصــود رســېدۀ غــواړې"[7]

"درس عبرت

کــۀ دې خيــال د ازدۍ د خپــل وطــن وي
مــۀ وېرېــږه کــۀ دې مخکښــې مشــين گــن وي
ترقــي پــۀ لــږ وئېلــو ډېــر عمــل ده
نــۀ پــۀ دې چــې پــاؤ عمــل خبــرې مــن وي
پــه نفــاق بانــدې اســان کارونــه گــران شــي
اتفــاق بانــدې مــوم کېــږي کــۀ آهــن وي
نــن افــلاس او جهــل هــر چــا نــه رخصت شــو
زمــونږ قــوم کښــې بــه تــر کومــه استوگن وي
چــرې زۀ بــه خپــل وطــن اووينم داســې
ســر چشــمه چــې د هــر علــم و د هــر فــن وي
خــــو گلونـــــه د هغـــــۀ د پاخــــه کېـــږده
چې کوم ځائے کښې د قومي شهيد مدفن وي
کـــړه پـــۀ غـــوږو دي زمـــا خبـــرې داســـې
لکـــه خنـــګ چـــې ملغلـــرې د عـــدن دي"[8]

شاعري يې د قامي احساس نه ډکه ده د وخت غوښتنه چې علم او پوهه ده پۀ نظر کښې ساتي او قام ته هم دغه پېغام ورکوي چې دنيا سره تګ د دغه علمي پوهې او شعور نه بغېر ناممکن دي - د فضل احمد "غر" شاعري بې شمېره ګڼ موضوعات لري پۀ خصوصي توګه ترقي پاند رجحان يې پۀ شاعرۍ کښې ځرګند دے - د ژبې رواني او اساني يې لوستونکے او اوريدونکے ځان طرف ته پۀ متوجه کولو مجبوروي -

تعليم، روزګار اولاد

لکه څنګه چې ټول خلق د خپلې بقا د پاره تعليم تر لاسه کوي او بيا د دغې نه پس د ژوند داسې لارې چارې لټوي چې خپل ژوند ته پرې دوام ورکړي او د خپل ژوند د بقا پۀ خاطر

سفرونه کوي او سختې تېروي او خپل ځان په هر حالت کښې داسې ساتل غواړي چې ښه ژوند تېرکړي هم دغه وجه وه چې فضل احمد غر هم د دغه وخت مروجه تعليم تر لاسه کړو او د خپل وخت په تعليم يافته خلقو کښې د ے دۀ په هغه وخت کښې د لاهور د يو سکول نه لسم جومات پاس کړے ؤ ـ د دۀ پېدائش اګر چې د مردان دے خو ولې پلار ئې په لاهور کښې ؤ په دې وجه د خپل کلي نه د لرې والي په وجه سبق ئې په لاهور کښې وئېلے دے ـ د دغه ځائے نه پس بيا حېدر اباد ته لاړو او هلته به ئې کار روزګار کولو ـ دۀ هېڅ اولاد نۀ لرلو ـ

"د باغبانپورې (لاهور) د يو سکول نه ئې مېټرک وکړو ـ کال ۱۹۲۶ء کښې حېدر اباد دکن ته لاړ تر کال ۱۹۴۹ء پورې هم هلته د خپل ماما عبدالجبار خان کره ؤ ـ" [9]

يعنې د اووۀ ويشتو کالو په عمر کښې حېدر اباد دکن ته تللے دے چې دغه وخت دے د مزدورۍ قابل ؤ ـ او بيا هم دغلته ئې خوارې مزدورې کوله چې بيا ورسته ئې په کراچۍ د چاپو کاروبار کولو چائے به ئې خرڅولې ـ د دۀ داولاد، تعليم او روزګار په لړ کښې مونږ ته هم دغه هومره معلومات په لاس راځي ـ مېټرک پاس يو ترقي پسند او مزدور کار تکړه شاعر ؤ ـ

عصر، د پوهانو په نظر کښې

فضل احمد غر په داسې وخت کښې سترګې غړولې دي کوم وخت چې د پښتنو خاوره د انګريزي استعمار د قبضې د لاندې وه ـ دغه وخت پښتون قام د غلامۍ په زنځيرونو کښې تړلے وۀ ـ د شلمې صدۍ په شروع کښې پُښتنائۀ د بېدارۍ په لور روان وو دغه وخت په پُښتون وطن د ګڼو ستونځو او بدو حالاتو سره مخ وۀ ـ چې پکښې سياسي، مذهبي، علمي او معاشي بحران هم شامل وۀ ـ په داسې حالاتو کښې د يو انسان پيدا کېدل علم، پوهه او شعور تر لاسه کول او د خپلې پوهې او شعور د لارې قام ته لاره ښودل بې شکه چې د يو لوئې سړي کار کېدے شي چې د وخت د دومره بې رحمۍ باوجود ئې هم خپله مبارزه کړې ده ـ

"د شلمې پېړۍ څخه د مخې مغربي دنيا د صنعتي انقلاب د خوږو اموخته شوې وه د دغه خوږې چينې د تاندې ساتلو د پاره په وروستو پاتې دنيا کښې ئې خپلو استعماري ګټو له دوام ورکوۀ ـ د ګټو فلسفيانه، سائنسي او تکنيکي بدلونونو ليدو او خپلېدو باوجود هم د مغرب رويه بدله نۀ شوه ـ" [10]

دغه وخت اګر چې مغربي دنیا مخ پهٔ ترقۍ روانه وه خو د دې باوجود چې کوم قامونه او خاوره چې د هغوي د تسلط لاندې وه هغوي ئې چرې هم دې ته نهٔ پرېښوُدل چې دوي ترقي وکړي او د نورې ترقي یافته نړۍ سره دې څنګ پهٔ څنګ لاړ شي ـ او پهٔ دغه بد بخته قامونو کښې یو د پښتون وطن قام او خاوره هم شامله وه چې د انګرېز د تسلط د لاندې وه ـ هغوي چرې هم دا نهٔ غوښتل چې دغه قامونه د ځان سره سیال کړي او هم دغه وجه وه چې دوي خپل غلامان قامونه وړاندې د ترقۍ پهٔ لور نهٔ پرېښودل دغه وخت تر ټولو لویه بدقسمتي دا وه چې ټېکنالوجي صرف د فېرنګي سره وه او هر وخت به ئې د خپلې ګټې د پاره پهٔ استعمال کښې راوسته او د نړۍ پهٔ وړو قامونو او خاص کر د هندوستان پهٔ خلقو به ئې استعمالوله دغه وجه وه چې دوي خپل تسلط تر هغه وخته پورې پهٔ خلقو قائم وساتلو تر کومه چې هند د ټېکنالوجۍ سره اشنا شوے نهٔ ؤ ـ پهٔ داسې حالاتو کښې د قام ترجماني کول او قام ته د خپل قلم د لارې لاره ښودل بیخي یو جهاد دے او دغه جهاد فضل احمد غر کړے دے ـ پهٔ دغه وخت کښې کله چې پهٔ کال ۱۹۲۸ء کښې باچا خان د پښتون مجلې اجراء وکړه نو پهٔ هغه وخت کښې به د فضل احمد غر شاعري وخت پهٔ وخت پهٔ دغه مجله کښې چاپ کېده ـ فضل احمد غر د وخت ضرورت پهٔ نظر کښې ساتلے دے کهٔ چرته ئې د غلامۍ خبره کړې ده، نو چرته ئې د علم او هنر، چرته ئې د قام خوبۍ پهٔ ګوته کړي نو خامۍ ئې هم نهٔ دي پرېښودلې ـ د قام د ژوند پهٔ هر اړخ ئې نظر ساتلے دے او هغه ئې پهٔ داسې انداز کښې وړاندې راوړلے دے چې د قام هر وګړي ته د دغې ټولو خبرو احساس ورکوي ـ

یو شاعر یا لیکوال چې پهٔ کوم وخت او جغرافیه کښې ژوند کوي نو د هغهٔ پهٔ چاپېر چل کښې ډېر نقادان او پوهان نور هم د دهٔ سره ژوند کوي چې د دهٔ پهٔ ژوند او لیک باندې نظر ساتي نهٔ ئې صرف لولي بلکښې د هغې انسان او لیک پهٔ باره کښې خپله رائې هم وړاندې کوي خامۍ او خوبۍ ئې پهٔ ګوته کوي ـ فضل احمد غر د یو شاعر پهٔ حېث پهٔ پښتو ادب کښې مخې ته راغلے دے او پهٔ کوم وخت کښې چې غر شاعري کوله نو په دغه وخت کښې پښتو ادب ښهٔ زرخېزه ؤ نهٔ صرف شاعران بلکښې نقادان او لیکوالان ئې هم پېدا کړي وو ـ هسې خو د دهٔ شاعري وخت پهٔ وخت پهٔ مختلفو مجلو او اخبارونو کښې چاپ کېدله خو د دهٔ چې کومه چې وړومبۍ شعري مجموعه

د ګل کوهي پهٔ نوم مخې ته راغلې وه دغه مجموعه د افغانستان نه چاپ شوې وه چې غر ئې د خپل قام سره اشنا کړو هم د دې سره سم پوهانو د دهٔ پهٔ حقله خپل نظرونه شریک کړل ـ همېش خلیل لیکي چې

"وئېلے شي کله چې څهٔ وخت اعلیٰضرت غازي امان الله خان د یورپ پهٔ سفر د تللو پهٔ موقع بمبیٔ ته ورسېدو نو غر صېب د هغو پهٔ شان یوه قصیده اووئېله اعلیٰحضرت د دغه قصیدې نه دومره متاثره شو چې وې وئېل :

" زهٔ پښتو ژبه او ادب د غر صاحب پهٔ حواله کوم او خپله د ملک د اقتصادي حالاتو د ترقیٔ د پاره به کوشش کوم ـ "[11]

د هغه وخت د باچا صرف یوه قصیده د هغهٔ نه اورېدل او د غر پهٔ باره کښې داسې خبره کول واقعي چې د غر د شعري پختګیٔ ثبوت وړاندې کوي ـ د دې نه دا پته هم لګي چې غر پهٔ دغه وخت کښې شهرت موندلے ؤ ځکه چې د وخت د باچا پهٔ شان کښې قصیده وئېل او د باچا د هغهٔ اورېدل او د هغهٔ په حقله بیا داسې رائې ورکول د فضل احمد غر د یو ښهٔ شاعر د پاره مضبوط دلیل دے او بیا پښتو ادب دهٔ ته سپارل بلکل دا پهٔ ډاګه کوي چې غر یو ښهٔ شاعر ؤ او دے ـ غر هر څو کهٔ د پښتنې خاورې نه لرے ژوند کړے خو د خپلې ژبې او خاورې سره د مینې پهٔ سبب ئې خپل ځان هغه ځائے ته رسولے دے چې ټول لیکوالان ئې د شاعرۍ د یوې لوړې درجې قائل دي ـ تر ټولو لویه وجه ئې هم دا ده چې پهٔ شاعرۍ کښې ئې حریت پسندي، انسان دوستي او قامولي جوت موضوعات دي ـ

*"بیسویں صدی کے جدید شعراء میں فضل احمد غر جو اردو شاعری میں افغان تخلص کرتے تھے ـ ایک ایسے شاعر ہیں ـــــــــ افغان کی شاعری میں سادگی، برجستگی، اور سلاست نمایاں ہے ـ چھوٹے اور بڑے دونوں بحور میں مترنم شاعری کی ہے موضوعاتی تنوع بھی نظر آتی ہے ـ رومانی، طنزیہ، قومی اور اصلاحی قسم کے مضامین زیادہ ملتے ہیں ـ"*[12]

د غر پهٔ حقله دا خبره بلکل پهٔ ډاګه ده چې د دهٔ شاعري هر قسم موضوعات لري ـ اسان لفظونه او ژوره معنه او مفهوم د دهٔ د کلام خوبي ده یو خوا کهٔ پهٔ فني لحاظ شاعري

ښکلې او پوره کړې ده نو بل خوا موضوعاتي لحاظ باندې هم ښۀ پوره ده ـ طنز ئې هم په داسې انداز کښې کړے دے چې غلطي ئې هم پۀ گوته کړې ده او ټوک ئې نېغ پۀ نېغه ياد کړے هم نۀ دے ـ د دۀ وړومبۍ شعري مجموعې باندې د افغانستان د قونسل مشر چې کومه مقدمه ليکلې ده نو پۀ هغې کښې ئې د دۀ د شعر او فکر پۀ حواله ډېرې پۀ زړۀ پورې خبرې کړي دي چې د فضل احمد د فکر او شعري توان اندازه او اهميت ترې پۀ اسانه لگي ـ وائي چې پښتنانۀ دا وخت د دې خبرې ضرورت لري چې پۀ دي کښې بيداري او د يووالي احساس راپيدا کړے شي او دا کار هم دۀ کړے دے ـ پۀ دې وجه دا کتاب چاپ کوم وروستو بيا هم دغه ملي احساس او د پښتو ژبې او ادب سره مينې دے پۀ خپل قام او اولس پېژندلے دے ـ

"ما پۀ دې وجه د دې ويښ پښتون يعنې فضل احمد افغان د عالي افکارو او قيمتي خيالاتو د مجموعې قدر وکړو او هغه مې خپور او نشر کړو چې د دۀ د روح اواز ټولو پښتنو ته ورسيږي ـ" [13]

لکه څنگه چې د هر شاعر دا ذمه داري جوړيږي چې د قام او اولس لارښودنه وکړي او دغه کار فضل احمد غر ډېر په ښۀ طريقه کړے دے ـ دۀ چې پۀ کوم وخت کښې ژوند کړے دے پۀ دغه وخت کښې دنيا ټوله او پۀ خاصه توگه هند د انقلاباتو سره مخ ؤ پۀ داسې حالاتو کښې يو قوم ته د صحيح لار ښود ضرورت وي کۀ چرې پۀ داسې حالاتو کښې يو ليکوال شاعر چپ پاتې شي او يا د وخت ضرورت پوره نۀ کړي نو دا د شاعر د بد بختۍ سره سره د قام بد بختي او کم نصيبي وي ـ داسې خلق او شاعران خوش بخته وي چې د ضرورت پۀ وخت کښې ئې صحيح لارښودنه وشي ـ

"ابو سعيد فضل احمد افغان ابن عبدالله مسافر صحرائي پر ښهني دکن پۀ خلقو کښې دا خبره د زمانې راهسې مشهوره شوې ده چې پۀ پښتو کښې پۀ ښۀ شان خپل خيالات څرگندؤل گران دي ـ دا لاندني بېتونه د لوستلو قابل دي لوستونکېو ته به پۀ خپله معلومه شي چې تر کومه حده پورې پۀ پښتو کښې مضمون ادا کېدے شي ـ " [14]

فضل احمد غر چې خپل جذبات او احساسات پۀ کومه طريقه بيان کړي دي نو هر اورېدونکے او لوستونکے د دې خبرې قائله کوي چې دے د يو ښۀ شاعر سره سره د

اساني او رواني ژبې خاوند هم دے ـ دا خبره په هغه وخت کښې باچاخان د دۀ متعلق کړې ده کله چې د دۀ عمر يو کم دېرش کاله ؤ يعنې دے دغه وخت ښۀ تکړه ځوان ؤ ـ او پښتون مجله کښې د دۀ شاعري چاپ کېدله او د هغه وخت معتبر سړي د دۀ په باره کښې داسې رائې لرل هسې نۀ ده دهغې وجه دا ده چې دۀ د وخت ضرورت ته کتل او د قام نفسياتو ته ئې کتل د هغې مطابق ئې خبره کړې ده ـ دا وجه ده چې هغه ټول اولس ته د دۀ د کلام د لارې دا پېغام ورکوي چې دا ژبه يوه پوره ژبه ده او په دې کښې هر سړے خپل جذبات او احساسات ښۀ په اسانه بيانولے هم شي او نورو ته ئې رسولے هم شي ـ د يو شاعر هم دا کمال کېدے شي چې خپله خبره په داسې انداز کښې تر خلقو پوره ورسوي چې خلق پرې پوهه هم شي د وخت ضرورت هم پوره شي او اولس ترې ګټه هم پورته کړي ـ غر د خپل ژوند ډېر انقلابات ليدلي دي ولې دۀ چې په کوم وخت کښې ژوند کولو نو هغه وخت دنيا ډېره په تېزئ سره مخ په وړاندې روانه وه پښتون قوم اګر کۀ د دې دنيا سره په منډه کښې په سائنسي بنيادونو نۀ ؤ روان خو ولې بيا هم د دې خاورې پوهان په فکري توګه د نورو قامونو سره اوګه په اوګه روان وو نظر ئې رسا او تخيل ئې لوړ دے ـ د دۀ د وينا په شا يو پوره شعوري هڅه او کلک پښتون فکر په نظر راځي ـ او دا د پښتو ادب بد بختي ده چې د فضل احمد غر ټول کلام باقي نۀ دے پاتے شوے او دا ئې خوش قسمتي ده چې دا يو وړوکے کتاب ئې پښتو ادب ته پاتې شوے دے ـ

" ځوک به دا اووائي چې غر اوس هم هغه غر نۀ دے پاتې ولې زۀ وايم چې دے اوس هم د خپل ترخ نه د رباعياتو قلمي ديوان راوباسي او تاته خپلې رباعيانې اوروي نو تۀ به ومنې چې فضل احمد غر کۀ انقلابات ګډوډ هم کړي د دۀ شاعرئ غر چې کوم دۀ جوړ کړے دے هېڅ طوفان نۀ شي خوځولے ـ" [15]

دۀ په خپل ژوند کښې ډېر خواړۀ او تراخۀ لمحات ليدلي دي او هم دغه وجه وه چې د دۀ حالات ئې ډېر خراب کړي وو په مالي توګه هم او بدني توګه هم کمزورے شوے ؤ ـ د دې هر څۀ باوجود غر خپله پښتو، غېرت او قامولي نۀ ده بائللې او ښۀ په نره ئې په خپل کلام کښې د دې هر څۀ اظهار بې د څۀ وېرې کړے او هم دا وجه وه چې کلام ايغ نېغ ساده او روان دے ـ او د قطعې يو ښۀ شاعر دے ـ د دۀ په حقله د ذکر شوې خبرو

نه دا پهٔ ډاګه کېږي چې غر د خپل وخت د ښو شاعرانو پهٔ شمار کښې راځي د شعري، فکري او تخیلاتي پختګۍ پهٔ سبب ئې کلام د هر عام او خاص وګړي د پاره یو خاص معیار او پېمانه لري او د وخت تېول پوهان ئې د یو شاعر پهٔ حېث د اوچتې درجې منونکي دي۔

# حوالې

[1]- همېش خلیل ، پښتانۀ لیکوال، دوېم اشاعت، اباسین پرنتنګ پرېس جنګي محله پېښور، ، مخ ۱۳۵.

[2]- اجمل خټک، سرې غُنچې (لومړے ټوک)، ، عامر پرنټ اېنډ پبلشرز، جنوري ۲۰۱۴ء، مخ. ۲۲

[3]- رشتین، صدیق الله، پیاوړي شاعران، یونیورسټي بک ایجنسي ماسټر پرنټرز محله جنګي پېښور، ۱۹۹۳ء، مخ. ۲۱۷

[4]- همېش خلیل، پښتانۀ لیکوال، دوېم اشاعت، اباسین پرنتنګ پرېس جنګي محله پېښور، مخ. ۱۳۹

[5]- محمد حنیف، پۀ پښتونخوا کښې ترقي پسند تحریک او د پښتو ترقي پسندې شاعرۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه، (۱۹۲۰. ۱نه۹۴۷)، غزنوي کتاب پلورنځائے، ۲۰۱۴ عیسوي کال، مخ ۳۰۴.

[6]- غر، فضل احمد ، د غرۀ ګلونه، دوېم چاپ، جدون پرنټنګ پرېس پشاور، ۱۹۹۱ء، مخ. ۹۹

[7]- غر، فضل احمد ، د غرۀ ګلونه، ، جدون پرنټنګ پرېس پشاور، دوېم چاپ، ۱۹۹۱ء ، مخ. ۵، ۴

[8]- هم دا اثر، مخ. ۱۳

[9]- غر، فضل احمد ، د غرۀ ګلونه، جدون پرنټنګ پرېس پشاور، دوېم چاپ، ۱۹۹۱ء، (ازهمېش خلیل)، مخ. (ب)

[10]- جرس، ګڼه نمبر، ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۴۰، کال نهم، لسم، صابر، صاحب شاه، خدائي خدمتګار تحریک او پښتو نظم، ، احمد پرنټنګ پرېس ناظم اباد نمبر ۲ کراچۍ ,مخ . ۱۹۳

[11]- همېش خلیل، پښتانۀ لیکوال، دوېم اشاعت، اباسین پرنتنګ پرېس جنګي محله پېښور، مخ. ۱۳۹

[12]- فني تدوین، عبدالرحیم خان، اردو زبان کی تاریخ، ایس ٹی پرنٹرز، گوالمنڈی، راولپنڈی، طبع اول، ۲۰۰۵ء، صفحہ۔ ۳۴۲

[13]-- رشتین، صدیق الله، پیاوړي شاعران، یونیورسټي بک ایجنسي ماسټر پرنټرز محله جنګي پېښور، ۱۹۹۳ء، مخ. ۲۱۲

[14]- غر، فضل احمد ، د غرۀ ګلونه، ، جدون پرنټنګ پرېس پشاور، دوېم چاپ، ۱۹۹۱ء،( ازعبدالغفار خان، خوږ نصیحت)، مخ. ۴

[15]- اجمل خټک، سرې غُنچې (لومړے ټوک)، جنوري ۲۰۱۴ء، عامر پرنټ اېنډ پبلشرز، مخ. ۲۳

Refrences

1. Hamish Khalil, Pukhtana likwal, dwaim ishaat, abaseen printing press jangi mohallah pekhawar, p. 135
2. Ajmal Khattak, sri ghunchi, lumrai tok, Amir Print and publisher's, January 2024, p . 62
3. Rishteen, Sideeq ullah, pyawuri shairan, University Book Agency Master Printers Mohallah Jangi, Pekhawar, 1993, p. 218
4. Hamish Khalil, Pukhtana likwal, dwaim ishaat, abaseen printing press jangi mohallah pekhawar, p.139
5. Muhammad Haneef, pa pukhtunkhwa ki tarqqi pasand Tahreek aw da pukhto tarqqi pasanda shairai tahqeeqi aw tanqeedi jaiza, (1920 na 1947) ، Ghaznawi Kitab ploranzai, 2014 Esvin kall, p. 304
6. Ghar, Fazal Ahmad, da ghra guloona, dwaim chaap, Jadoon Printing press Peshawar,1991, p. 99
7. 
8. Ghar, Fazal Ahmad, da ghra guloona, dwaim chaap, Jadoon Printing press Peshawar,1991, p.4,5
9. Hum Da Asar,13 p. B
10. Jaras, Ganra Number,37, 38, 39, 40, kall naham, Lasam, Sabir Sahib Shah, Khudai Khidmatgar Tahreek aw Pukhtu Nzazam, Ahmad Printng Press Nazim Abad numer 2 Karachi, p . 193
11. Hamish Khalil, Pukhtana likwal, dwaim ishaat, abaseen printing press jangi mohallah pekhawar, p.139
12. Fani tadween, Abdul Raheem Khan, Urdu Zuban Ki Tareekh, S T Printers, Guwalmandi, Rawalpindi, Taba Awwal, 2005, p. 342
13. Rishteen, Sideeq ullah, pyawuri shairan, University Book Agency Master Printers Mohallah Jangi, Pekhawar, 1993, p. 212
14. Ghar, Fazal Ahmad, da ghra guloona, dwaim chaap, Jadoon Printing press Peshawar,1991, p. 4
15. Ajmal Khattak, sri ghunchi, lumrai tok, Amir Print and publisher's, January 2024, p. 63